AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغـان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور
۲۰۲۴/۰۴/۰۱

# داسـې فقيري چـې فقيرۍ ورپورې وخـندل

## غـزل

اوښکو ورته و ژړل خوښۍ ورپـورې وخـنـدل
خنګه زنده ګي وه، زنده ګۍ ورپورې وخندل

دلته معنـوي پـرمختګ ځکـه په پښو شل شولـو
دلته د مـادياتـو تـرقـۍ ورپورې و خـندل

ستا چې پـر قلم پـه خط ليکلـو ګوتې شلې شوې
شنه شوه د مزدور د لاس پلۍ ورپـورې وخندل

لوخې پښې روان خپلې يې لاس کې چې ونۀ شليږي
داسـې فقيري چـې فقيرۍ ورپورې وخـندل

پېغله کورتـه راغلـه لـه واده نه په عصري سينګار
نيا يې تـرپنـه و ډار شوه ابۍ ورپـورې و خـنـدل

څـومـره بې ارزښته شوې بـاوره! قربانۍ زموږ
چـا بـه چې ژړل ورته؛هغوئ ورپورې و خـنـدل





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ